# د ساده ګل سندره

Ursula Nafula
Peris Wachuka
Zahidullah Abid
3
پښتو ps

ساده ګل له خپل مور، پلار او څلورکلنې خور سره د یوه شتمن سړي په ځمکه کې د لرګیو په یوه جونګړه کې ګډ ژوند کاوه. یاده جونګړه د ونو د کتار په پای کې وه.

ساده ګل درې کلن وو چې ناروغ شو، او د سترګو نظر يې له لاسه ورکړ. ساده ګل يو تکړه هلک ؤ.

ساده ګل ډېری داسې کارونه وکړل چې نورو شپېږ کلنو هلکانو هغه نه دي کړي. د بېلګې په توګه، هغه وکولی شو چې د کلي د مشرانو سره ناستې وکړي او په مهمو مسئلو ورسره خبرې وکړي.

د ساده ګل مور او پلار د شتمن سړي په کور کې کار کاوه. دوی به سهار وختي له کوره وتل او ماښام ناوخته به بیرته کور ته راتلل. ساده ګل به د خپلې کوچنۍ خور سره په کور کې پاتې کېده.

ساده ګل له سندرو ويلو سره مينه لرله. يوه ورځ يې مور ترې
وپوښتل;ساده ګله زويه! "دا سندرې دې له کومه زده کړي دي؟"

ساده ګل ځواب ورکړ، "مورې دا سندرې لومړی په ذهن کې جوړوم او بیا یې وایم."

ساده ګل به خپلې وړې خور ته سندرې ويل ډېر خوښول، په ځانګړې توګه، کله به يې چې خور ډېره خفه وه. خور به يې د ساده ګل سندرو ته غوږ نيوه او هغه به ورته د خپلې خوښې سندرې ويلې. هغې به سندرو ته په خوند غوږ نيولو.

د ساده ګل خور به له هغه غوښتنه کوله، "چې ساده ګله کولی
شئ دا سندره بیا ووایې،" ساده ګل به د هغې خبره منله او
سندره به یې ورته بیا بیا ویله.

يو ماښام، کله يې چې مور او پلار کور ته راغلل، دوی ډېر غلي وو.
ساده ګل پوهېده چې حتما کومه خبره شته.

ساده ګل وپوښتل: “څه خبره ده، مورې، پلاره!” ساده ګل پوه شو چې د شتمن سړي زوی لادرکه شوی دی. سړی ډېرغمجن او یوازې ؤ.

ساده ګل خپل مور او پلار ته وویل: “زه کولی شم د هغه لپاره سندرې ووایم. هغه ښایي خوشحاله شي،” خو مور او پلار یې غوښتنه ونه منله. مور او پلار یې ورته وویل، “هغه ډېر شتمن سړی دی. ته یو ړوند هلک یې. ایا ته فکر کوې چې ستا سندرې به له هغه سره مرسته وکړي، او پام به یې غلط شي؟”

خو، ساده ګل تسلیم نه شو. د هغه کوچنۍ خور د ساده ګل ملاتړ وکړ. هغې وویل: “د ساده ګل سندرې د لوړې په وخت کې ما ته د ارامۍ احساس راکوي. باور لرم چې د ده سندرې به د شتمن سړي هم ډېرې خوښې شي.”

بله ورځ، ساده ګل له خپلې کوچنۍ خور څخه وغوښتل چې هغه د
شتمن سړي کور ته بوځي.

ساده ګل د یوې لویې کړکۍ لاندې ودرېد او د خپلې خوښې سندرې په ویلو یې پیل وکړ. شتمن سړي ورو ورو د لویې کړکۍ څخه خپل سر راوویست.

کارګرانو خپل کار کول بند کړل. دوی د ساده ګل ښکلې سندره اورېدې. خو د دوی له ډلې یو سړي وویل: “تر اوسه هیڅوک په دې نه دي توانیدلي چې مشر ته تسلي ورکړي، آیا فکر کوئ چې دا ړوند هلک به هغه ته تسلي ورکړي؟”

ساده ګل سندره خلاصه کړه او ولاړ. خو یاد شتمن سړی په هغه پسې په منډه منډه ورغئ او له هغه یې وغوښتل: “مهرباني وکړئ! دا سندره بیا وواياست.”

په همدې وخت کې دوه سړي راغلل، چې یو نفر یې په کټ کې اچولی دی، هغوی پوه شول، چې دا هلک د شتمن سړي زوی دی، ځکه کوم چا له وهلو ډبولو وروسته په سړک کې اچولی و.

شتمن سړی د خپل زوی په بیا لیدو ډیر خوشحاله شو. هغه ته د تسلیت ورکولو له امله یې ساده ګل ته انعام ورکړ. هغه خپل زوی او ساده ګل روغتون ته یوړل تر څو ساده ګل هم بېرته خپل د سترګو نظر ترلاسه کړي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د ساده ګل سندره

Ursula Nafula
Peris Wachuka
Zahidullah Abid